# د پلټنې او څېړنې په پایله کې د رایو د باطلو او بې اعتباره ګڼلو لایحه

## مبني

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري (له دې وروسته کمیسیون)تصویب شو.

## موخه:

دا لایحه د ټاکنوقانون ۵۸ او ۶۵ مادې ته په پام، د هغو رایو د باطلولو او بې اعتباره کولو د څرنګوالي اړوند چارې تنظیموي چې د کمیسیون د پرېکړې پر بنسټ، د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د نوماندانو د رایو صندوقونو د پلټنې او څېړنې په پایله کې، په ساحه کې شوې ده.

## پلټنه او څېړنه

لومړۍ ماده:

پلټنه او څېړنه معمولاً د شوې ادعا د، شکمن مورد او موضوع د سموالي په موخه کېږي، څکه د پلټنې او څېړنې په پایله کې حقایق مشخص او را برسېره کېږي.

## د یو نوماند د رایو باطلېدل

دویمه ماده:

د یو نوماند رایې په لاندې حالاتو کې باطلېږي:

1. هر کله چې نوماند یا د هغه لومړی درجه خپلوان په زور ټاکنیز مواد او صندوقونه داسې تصرف کړي وي چې ټول ورڅخه ګټه نشي اخیستلی.
2. د ټاکنو بهیر څخه د ګټه اخیستنې یا ګډوډولو په موخه له ناریه او جارحه وسلې څخه کار اخیستل.
3. د بډو د ورانديز یا ورکولو د اثبات د مدارکو موجودیت.
4. د خلکو په غیابت کې په ډله یزه توګه د هغوی د رای ورکولوله کارتونوګټه اخیستل .

## په یو محل کې د رایو د بې اعتباره ګڼلو موارد

دریمه ماده:

1. په یوه مارکر د سلو رای پاڼو نښاني کول.
2. یوه نوماند ته ناقات شوې پاڼې.
3. د یو نوماند په ګټه نښاني شوې پاڼې چې له کُندې څخه نه وي جلا شوې.
4. د رای پاڼو یو شان نښاني کولو د نښو موجودیت د یو فیصد تحمل په منلو سره.
5. د رای صندوق نه قلپول (قفل) او یا قصدي تخریب.
6. د کمیسیون ولایتي دفترونو، د ټاکنو ساحوي ناظمینو، نوماندانو، څارونکو او کتونکوڅخه د بې نظمیو، د نوماند یا د هغه د پلویانو له خوا د ټاکنیزو کارکوونکو د تهدید او وهلو په اړه د ترلاسه شویو راپورونو سموالی .
7. د کمیسیون د لایحې خلاف د رای پاڼو نښاني کول.
8. د رای پاڼې د شا نه ټاپه کېدل.
9. د رای ورکولو محل یا مرکز په داخل کې د ټاکنو بهیر په جریان کې، د غیرمسوولو اشخاصو مداخله.
10. د رای ورکولو یو مرکز کې د نارینه و د رایو د په پرتله د ښځو د محل د رایو له اندازې ډېر زیاتوالی.
11. د پایلو په فورمه کې لاسوهنه (قلم خوردګي)، چې لیکل شوې رایې او د فورم د تطبیق برخه قصداً د بل نوماند په ګټه بدله شوې وي.
12. د کمیسیون د پایلو له فورم پرته ، په بل هر ډول کاغذ کې د پایلو رسول.
13. د هغو نوماندانو د رایو د جمع کولو په اړه شواهد چې انصراف یې کړی یا د یو نوماند رایې د بل نوماند په ګټه.
14. ټول هغه موارد چې کمیسیون هغه په قانوني موجه دلایلو تقلب تشخیص کړي.

## انفاذ

څلورمه ماده:

دا لایحه د تصویب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.